# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۳۵۲ ګڼه / شنبه ۲۴ جمادی‌الثانی ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۶ جدی ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۰۶ جنوری ۲۰۲٤ میلادي


ذبیح الله مجاهد:

## هیچ کسی خودسرانه بازداشت نمی‌شود

ذبیـح اللـه مجاهد، سـخنگوی امـارت اسـلامی افغانسـتان در واکنش به درخواسـت یوناما مبنی بر توقف بازداشت‌های خودسرانه، گفت که هیچ کسـی خود سـرانه بازداشت نمی‌شود.

مجاهد، بـه رادیو و تلویزیون ملی گفته اسـت «مطمین باشـیم هیچ کسی خود سرانه گرفتار نمی‌شود و بدون معلومات دقیق و همه جانبه هم گرفتار نشده است.»

او افـزوده اسـت «اگـر کسـی بازداشت شـده بر اساس مجرای قانونـی بـود و ارگان‌هـای عدلی این کار را کـرده و آنها صلاحیت دارند.»

بـه گفتـه‌ای وی؛ که اگر کسـی جرمی نداشـته و توقیف می‌شود، صرف برای اخـذ معلومات بود و پس از اخذ معلومات رها می‌شود، بدون این که حق‌اش تلف شـود و یا با برخورد نادرست مواجه شود.

سخنگوی امارت اسلامی بار دیگر بـه یوناما و سـایر نهادها اطمینان داد، اجراات که صـورت گرفته و یا هـم می‌گیرد همـه قانونی و به اسـاس اصول شـریعت اسلامی است.

مولوي عبدالسلام حنفي:

# اسلامي امارت خلکو ته د آسانتیا برابرولو لپاره هیڅ ډول هڅې نه سپموي



د ریاسـت‌الوزرا اداري مرسـتیال مولوي عبدالسلام حنفي، د کندز له یو شـمېر علماوو او مجاهدینو سره وکتل.

باختـر آژانس ته د ریاسـت‌الوزرا د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنـه کې د کنـدز ولایت د جهادي مدرسـې مهتـمم مولوي سـید محي الدین سعادت د نورو په اسـتازیتوب خبرې کـړې او په دغه ولایـت کـې د ټولنیـز او اقتصادي وضعیت، ښوونې او روزنې او سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه یې معلومات ورکړي دي.

هغه زیاته کړې چې د کندز سیمه ییز مسئولین د امنیت د تامین هڅه کوي او خلکو ته د غوره ... ۷مخ

## د ۷۳ چکډېمونو د جوړېدو تړونونه لاسلیک‌شول



د اوبو او انـرژۍ وزارت، د هېواد پـه یوولسـو ولایتونو کـې د ۷۳ چکډېمونـو د جوړېـدو تړونونو د لاسلیک کېدو خبر ورکړی دی.

دغـه وزارت د یـوې خبرپاڼې په خپرولو سـره ویلي چې په هېواد کې د اوبـو بحران او د موسـمي سـېلابونو د مدیریت او کنټرول، د اوبـو سـرچینو د پیاوړتیـا او د سـېلابونو او وچکالیو د زیانونو د کموالي لپاره د هېواد په... ۷مخ

## منځني ختیځ کې د کړکېچ نوی رنګ



غزه کې د صهیونېستي رژیم د روانو ظلمونو ۹۲ مه ورځ ده او د وروستیو راپورونو په حواله دغې جګړه کې د فلسطیني شـهیدانو شمېر ۲۲ زره ۳۱۳ تنو او د ټپیانو شمېر بیا ۵۷ زره ۲۹۶ تنو ته رسېدلی او دغه حالت لا هم روان دی. ۷مخ

## د تالقانو ښاروالۍ په تېرو ۶ میاشتو کې ۴۴ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي



د تخار د تالقانو ښاروالۍ ریاست د روان ۱۴۰۲ کال د لومړیو ۶ میاشتو د عوایدو او لګښتونو حساب د یوې غونډې پـه ترڅ کې د یـاد ولایت مسوولینو او خلکو ته وړاندې کړ.

د تخار د تالقانو ښاروال قاري نقیب الله محمد الله د لومړیو ۶ میاشتو د حساب ورکونې په غونډه کې ویلي چې یادې ښاروالۍ په دغه موده کې ۴۴ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي. ۷مخ

ډاکټر قلندر عباد:

## روغتیا وزارت هڅه کوي چې هېوادوالو ته معیاري خدمتونه وړاندې کړي

د عامې روغتیا وزارت سرپرست ډاکټر قلندر عباد، د نورسـتان له یو شمېر مشرانو سره وکتل.

باختـر آژانس تـه د عامـې روغتیا وزارت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې چې د دغه وزارت د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ معین ډاکټر محمد حسن غیاثي او د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو معین حبیب الله آخندزاده حامد هم حاضر وو؛ د نورستان مشرانو د عامې روغتیا وزارت له رهبرۍ څخه مننه کړې چې په تېـرو دوو کلونو کې یې روغتیایي ستونزو ته رسېدنه شوې او د ناروغانو د درملنې په موخه یې نوي روغتیایي مرکزونه جوړ شوي دي.

د عامـې روغتیا وزارت سرپرسـت هم، یادو مشـرانو ته ډاډ ورکړی چې د عامې روغتیـا وزارت هڅه کوي د هېواد په ټولو نږدې او لرې پرتو سیمو کې هېوادوالو تـه معیاري روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي.


اقتصادي نظام کې یوازې پر مالیاتو تکیه نه ده پکار! ۲

اسلامي نظام ټولو ته مسوول وي ۳

نشانه‌های از شکست مفتضحانه اسرائیل در غزه ۳

د حجاب اړوند د شبهاتو جوابونه: ۴


## ساخت ده ها خانه به زلزله زدگان هرات



ده هـا خانه، به خانـواده های زلزله زدگان درهرات، تسلیم داده شد.

ایـن کلبه هـا در منطقـه ی کرنیل وردکهای ولسـوالی زنـده جان، به خانواده هایی تحویل داده شد که در زلزله ی ویرانگر هـرات، خانه های شان را از دست داده بودند.

شکیب شهابی مسوول پروژه ساخت ایـن کلبه ها به آژانس باخترگفت که این بار ، سی وهفت کلبه ی معیاری به زلزله زدگان تحویل داده اند .

این کلبه ها به کمک مردمی... ص۷

گزارش

## اعمار یک منار تاریخی غزنی در کابل



شاروالی کابل به همکاری شرکت مخابراتی افغان بیسـیم به تازگی از سـاخت یک منار تاریخی در کابل رو نمایی کرد.

این منار روبرداشـت شده از یک سازه تاریخی ولایت باستانی غزنی می‌باشد که در چهار راهی پل سرخ از مربوطات ناحیه سوم شهر کابل اعمار شده است. ص۵

سرمقاله

## له پاکستان سره زموږ د اړیکو اهمیت او پېچلتیا!

لکه چې خبریاسـت په دې ورځو کې د کندهار د والي په مشرۍ یو افغان پلاوی د پاکسـتان په دوره وتلی او د تر لاسه شویو معلوماتو په اساس هلته یې د یاد هېواد خارجه وزیر سـره هم لیده کاته شـوي دي. ښکاره ده چې افغـان پلاوی به هلته د خپل منځي اړیکو پرګڼو موضوعاتو بحثونه وکړي او ډېر موارد به سره وشـاربي. ځکه افغانستان او پاکستان دوه داسې ګاونډیان دي چې خپلو کې ډېر اوږد سرحد اوزښـته ډېر تاریخي، دیني، کلتوري او جغرافیوي مشترکات سـره لري. مطلب دواړوته ښې اړیکې ساتل پرېمانه ګټې لري خـو تاوتریخوالی انتهایي زیانمن تمامېدی شـي. مثلاً که زموږ لپاره سمندر ته تر ټولو نږدې لار له پاکستان تېرېږي، همدغه شان د پاکستان خلکو ته له منځنۍ اسیا انرژي تر لاسه کول بیا د افغانستان له لارې ممکن دي. دغـه راز په زراعتي پیـداوارو کې هم دواړه هېوادونـه یو بل ته ځینې اړتیاوې لري چې په ارزانه بیه یې سـره تبادله کولی شـي. خو بل لورته بیا د اړیکو په رغولو کې ځولیې او مهمې سیاسـي سـتونزې هم شته، داسې سـتونزې چې که له اقتصادي اړیکو او سـوداګرۍ نه جلا نه کړی شي نو د دواړو هېوادونو زیاتره معاملات په ټپه هم درېدلی شـي. په دغو مشـکلاتو کې تر ټولو مهم یې د انګریزانو له وتلو وروسته د افغانستان په یوه لویه برخه ځمکه د پاکستان په نامه د بریتانیې د یو وارث حکومت قیام دی.

زموږ د هېـواد دغه برخه انګریزانو په وچ زور لاندې کړې وه چې بیایې هم فقط د خپل زور و ځواک پرمټ خپل وارث پاکسـتان ته وسـپارله. څرنګه چـې د ایکي یو قوم او ملت دغه بېلتون هیڅ افغان ته د منلو نه و/دی، ځکه خو تر اوسه هیڅ حکومت هم دا صلاحیت نه دی لرلی چې په... ۷مخ

## غلام خان بندر کې بار وړونکو موټرو ته تم ځای جوړ شو



د خوست ولایت په غلام خان بندر کې د لویو بـار وړونکو موټرو لپاره د بشپړو انسـانتیاوو په درلودلو سره پـه ۱۰۰ جریبه ځمکه کې تم ځای جوړ او د خوسـت مرسـتیال والي مولـوي محبوب شـاه قانت لخوا پرانیستل شو.

په دغو مراسـمو کـې د یاد ولایت مرسـتیال والي مولوي محبوب شاه قانت وویل چې د یـاد تم ځای په جوړېدو سـره به د غلام خان بندر پـه اوږدو کې د بار وړونکو موټرو د پارکېنګ ستونزه حل شي.

نوموړي همدا راز وویل چې په دغه تم ځای کې اداري خونې، د تم ځای همـوارکاري، د سـاتوونکوخونې، اوبو او برېښنا سیسـتم او نور اړین ملحقات شامل دي.

د یادونې وړ ده چې پر دغه تم ځای ۱۵ میلیونه افغانۍ لګښـت راغلی دی.

## بررسی مدیریت آب سطحی شهر کابل



رئیـس امـور حقوقـی، تقنینی و قضایـی اداره امـور در سـومین نشسـت مدیریت آب سـطحی (کمربند سـبز) شـهر کابل گفت که مدیریت آب سـطحی (کمربند سبز) شـهر کابل یکي از اولویت های امارت اسلامی است.

دفتر مطبوعاتی ریاسـت عمومی اداره امور با نشـر ایـن خبر گفته اسـت که سومین نشست در مورد مدیریـت آب سـطحی (کمربند سبز) شهر کابل برگزار شد.

این نشسـت، مطابق فیصله کمیته تصفیه و تفکیک قرار دادها؛ ص۷

## جهادي خاطرې

# قاري فیض محمد فیاض شهید!

### ۱۳۷۷ هجري لمریز کال

**مولوي حیات الله مهاجر فراهي**

موږ د تاریخ په کتابونو کې د خپلو اسلافو په اړه ډېر څه لوستي، د ځینو د ژوند حالات، کارنامې، اخلاص، للهیت، زړورتیا، زهد او سرښندنو ته به هک پک پاتې شو، فکر مو کاوه چې د یوه انسان لپاره د داسې کړنو ترسره کول له سوچ نه د باندې کار دی او دا چې زموږ په پېر او زمانه کې د داسې لویانو او اکابرو ځرګندېدل ناشوني او محال دي، خو موږ په خپل عصر کې هم داسې خلک ولیدل چې تر ډېرې اندازې یې کړه وړه د هماغه اسلافو په څېر و. یو له هغو شخصیتونو نه شهید سعید قاري فیض محمد فیاض رحمه الله و.

د شهید قاري فیض محمد رحمه الله سره مو هغه وخت پېژندګلوي وشوه، چې دی د کندهار د مرکزي جهادي مدرسې مهتمم و او موږ همدلته سبقونه ویل (چې دا نو زموږ د ژوندانه تر ټولو بختورې شېبې وې).

قاري صاحب شهید چې کله د جهادې مدرسې مهتمم و په مدرسه کې زیات او کم دوه زره مجاهدو طالبانو درسونه ویل او بیا د مرحوم مشر ملا صاحب رحمه الله په امر همدا طالبان شمال ته ولېږل شول، چې هلته یې د جوزجان، سرپل، مزار شریف، سمنګان، بامیان، بغلان او تخار په تسخیرولو کې کلیدي رول ولو باوه.

قاري فیض محمد فیاض رحمه الله ډېر زړه سواند، خاکسار او د نرم مزاج خاوند ؤ، هغه ډېر فقیرانه ژوند درلود. د دنیا د ساز او سامان سره یې نه وه جوړه. خبرې یې ډېرې ساده خو په وینا کې یې الله تعالی ستر اثر ایښی و. کله چې په تېر امارت کې د شمالي ولایاتو د فتحې لړۍ شروع شوه د سمنګان ولایت په ځینو سیمو کې د نظار شورا د غړو لخوا مزاحمت موجود ؤ، نو د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد لخوا قاري فیض محمد شهید ورته د والي په حیث وټاکل شو.

شهید قاري صاحب په ډېره کمه موده کې په خپلو نېکو اخلاقو او نرم چلند د مخالفینو بغاوت خاموش کړ... د هغه اړیکې د ولسي سپینږیرو، قومي مشرانو او علماء کرامو سره ډېرې صمیمانه وې.

شهید قاري صاحب رحمه الله له ځان غوښتنې، تکبر او ریا نه ډېر پاک انسان و، یو وخت مې ورته وویل کابل ته ځم کرایه راکړه نور طالبان هم په مجلس کې ناست و، راته کړل یې چې: روپۍ خلاصې شوي او نه شته راسره... زه هم د اتاق نه د باندې را ووتلم دی هم زما پسې را ووت، په خپل جېب کې یې وکتل روپۍ یې پټې زما په لاس کې کېښودلې زه پوه شوم چې دا یې شخصي روپۍ وې.

کله چې امریکایانو په لومړي ځل بمبار پیل کړ موږ د قاري صاحب تر مشرۍ لاندې د تخار ولایت د خواجه غار ولسوالۍ د هزار باغ سیمې د جګړې په لومړۍ کرښه کې و... وروسته بیا د تخار مرکز ته راغلو. یو وخت د شپې شاوخوا درې بجې وې چې پېره دار مجاهد ږغ وکړ راکښېنئ، اودسونه وکړئ او تهجد لمونځ وکړئ دا ځکه چې قاري صاحب شهید په مخابره کې ږغ پر کړی و چې مجاهدینو باندې بمبار شروع دی او په تکلیف کې دي، تاسو راکښېنئ او دعاوې وکړئ. هغه وخت چې طالبانو د تخار نه پر شاتګ وکړ او کندز ته راغله نو موږ همدلته د څو ورځو لپاره تم شو، چې بیا د روژې د میاشتې څو لومړنۍ شپې مو همدلته وې او وروسته د کندز نه د چار درې په لور د شپې پر یوولسو بجو باندې روان شوو. دلته امریکایي سي ۱۳۰ طیارې سخت بمبار وکړ او په لسګونو مجاهدین یې شهیدان او زخمیان کړل. موږ همدلته د یرګنک په دښتته کې یوه بله شپه هم تېره کړه. په دا بله ورځ د دوستم ملېشو ته د تسلیمۍ لړۍ شروع شوه، موږ یې روان کړو په یوه کنده (خوړ) کې یې کښېنولو، لاسونه یې راته شاته وتړل، دې وخت کې زه او قاري صاحب شهید څنګ په څنګ سره ناست ؤ، راته کړل یې: مولوي! فکر کړم آخره مو ده نور مو وژني ما په خندا کې ورته وویل: قاري صاحب دا ځل خو دې زه ضامن یم، نه مو وژني، ویل یې په کوم دلیل دا خبره کړې؟ ما ویل: که یې وژلای نو دومره تکلیف یې نه کاوه چې تر دې ځای یې راوستلای، بلکې همالته یې ویشتلو.

کله یې چې د شبرغان زندان ته راوستلو، یوه ورځ قاري صاحب شهید راته ویل بیګاه مې خوب لیده چې د زندان دروازې خلاصې کړل شوې وې، ټول بندیان روان وي ترې وځي او زه تر ټولو وروسته پاتې یم...

په دې وخت کې کوم کس ږغ وکړ چې فیض محمد دې را ووځي. دی هم ور روان شو چې بیا له دې ځایه امریکایانو ته په لاس ورکړل شوی ؤ. کله چې موږ د شبرغان په زندان کې ونو داسې مو اورېدل چې د دوستم ملېشې طالب قوماندانان د پنځه زره ډالرو په بدل کې پر امریکایانو پلوري.

په هر حال قاري فیض محمد شهیدیې زموږ نه جلا کړ او ما خپله بیا د تل لپاره ونه لید، البته کله چې له ګوانتنامو زندان نه راخوشې کړل شو د تیلفون له لارې ورسره په تماس کې وم. د راخوشې کېدا نه وروسته قاري صاحب د ټول هېواد د نظامي کمېسیون مسؤل وټاکل شو. قاري صاحب شهید خپل جهادي مسیر ته دوام ورکړ او د ارزګان ولایت لپاره د جهادي مسؤل په توګه وګومارل شو.

د قاري صاحب شهید یو نږدې خپلوان مولوي عبدالمتین سعید راته کېسه وکړه چې:

موږ قاري صاحب ته د ملګري درخواست وکړ نو هغه راته وویل زه چې هر کس په ملګري منم نو څه شرایط ورباندې ږدم. لومړی شرط یې دادی چې باید زما اندیوال څلور میاشتې تبلیغ ته ولاړ شي، ځکه جهاد او ټوپک غرور لري او تبلیغ بیا په سړي کې نرمي راولي نو دا دواړه چې سره یو ځای شي په انسان کې اعتدال او منځلاریتوب رامنځته کېږي. بالآخره د حق د لارې دا داعي، مدبر، زړه سواند، په نبوي اخلاقو سمبال، زاهد، متقي او جامع الاوصاف شخصیت د ارزګان ولایت په شالۍ ناوه کې د امریکایي الوتکو په بمبار کې د ۱۳۸۶/ لمریز کال د اسد د میاشتې په لومړۍ نېټه د شهادت جام نوش کړ...

نحسبه کذالک و الله حسیبه، انا لله و انا الیه راجعون

# اقتصادي نظام کې یوازې پر مالیاتو تکیه نه ده پکار!

**سعید غلجي**

کامله خپلواکي هغه خپلواکي ده، چې یو نظام د ځمکنۍ خپلواکي تر څنګ؛ اقتصادي او سیاسي خپلواکي هم ولري، تعلیمي برخه کې هم پرمختللی وي او خپل لومړني حوایج هم په کور دننه پوره کړي او تر ډېره حده پر ځان بسیا واوسي. الحمدلله؛ اوس موږ ځمکنۍ خپلواکي تر لاسه کړې، پر ټول هېواد یو قوي مرکزي اسلامي نظام واکمن دی او یوه لوېشت ځای هم د بل چا په واک کې نشته، سیاسي برخه کې هم کاملاً خپلواک یو، مګر اقتصادي خپلواکي ته لا نه یو رسېدلي. اقتصاد مو کمزوری او له هرې خوا بندیزونو سره هم مخ یو. دا ځکه چې کار له صفره پیل شو، تېره شل کلنه دوره کې افغانستان هیڅ اقتصاد نه درلود، هر څه په بهرني خیرات روان وو، زموږ اقتصاد داسې مثال درلود، لکه یو سوالګر ته چې څوک ښه مېلمستیا وکړي، ښه خوراک، ښکاک پرې وکړي او ښې جامې ور واغوندي، خو چې بیګا ته راشي، کور کې یې هیڅ نه وي او وږی ویده شي. همدغه شان، موږ هم شل کاله یوه غوړه مېلمستیا وخوړه، خو اوس وږي ناست یو، ځکه خپله هیڅ شی نه لرو، پردی خیرات ؤ، هغه ختم شو. ځکه چې هغه خیرات اصلاً د وطن د اشغال بیه وه، چې تېرې اداري تر لاسه کوله، خپل جیبونه یې پرې ډک کړل او ولاړل وتښتېدل. ملت نه پرون څه درلودل، نه یې نن لري. نو شل کاله دلته یو کاذب اقتصاد چلېده، اوس اسلامي امارت تقریباً له صفره کار پیل کړی، که خدای کول ورو، ورو به پرمختګ کوو، دا ځل د سوال، ګداګرۍ او وطن پلورنې پر ځای پر خپلو متو کار کوو او سرمایه جوړوو. د اقتصاد لپاره د قوشتېپې په شان بسنتیزو پروژو ضرورت دی، تر څو هم خودکفا شو او هم داسې یو خپلواک او اساسي اقتصاد ولرو، چې د تل لپاره مو له پردي احتیاجه خلاص کړي او دومره څه ولرو، چې د نړیوالو بشردوستانو(!) د بندیزونو مقابله پرې وکړو. قوشتېپه په خپل ځای یوه لویه پروژه ده، خو د هېواد په سطحه دا یوه وړه پروژه ده، یعنې یوازې قوشتېپه زموږ ټول حوایج نه شي پوره کولی، باید د قوشتېپې په شان نورې په لسګونو اساسي او بسنتیزې پروژې هم پیل کړو، تر څو نظام هیچا ته، آن خپل ولس ته هم لاس ونه نیسي. سره له دې چې مالیات په ټوله نړۍ کې شته، د نړۍ هغه اوله درجه پرمختللي هېوادونه هم له خپلو ملتونو د مختلفو خدماتو په بدل کې مالیات اخلي، نو نورې نړۍ ته په کتو، زموږ نظام هم مالیات اخیستلی شي، بلکې اسلامي امارت خو اکثره برخو کې خلکو ته پخواني مالیات معاف هم کړل، یا یې تخفیف پکې راوست، مګر اسلامي نظام باید له نورې نړۍ سره متفاوت وي، موږ باید داسې حد ته ورسېږو، چې له خپل ملت څخه هیڅ مالیات وانخلو او ښه پراخ خدمت یې هم وکړو، همدا د اسلام او مسلمانۍ غوښتنه او زموږ د سلفو صالحینو تګلاره ده. بل دا چې زموږ د هېوادوالو اقتصادي وضعیت هم ډېر کمزوری دی، اوسني مالیات هم پرې ملت بوج دي، که نوره نړۍ کې مالیات شته، نو د هغوی د ژوند کچه هم لوړه ده او ملتونه یې د ښه او پیاوړي اقتصاد څښتنان دي. نو موږ باید د خپلو هېوادوالو اقتصادي وضعیت هم په پام کې ونیسو، داسې مالیات باید پرې وضع نه کړو، چې هغوی یې له اداء کولو عاجز وي. د تېرې اداري پر مالیاتي سیستم باید له سره غور وشي او اصلاحات پکې راشي. اګر چې اوس د علماؤ اجماع دا ده، چې یو اسلامي نظام کولی شي، د خپل نظام د پایښت او د خپل رعیت د خدمت لپاره له ولس څخه مناسب او عادلانه مالیات جمع کړي. مګر دا یې د جواز حد دی، کنه غوره خو دا ده، چې حکومت له خپل رعیت څخه هیڅ مالیات وانخلي او بې عوضه خدمات ورته وړاندې کړي. هغه داسې چې حکومت باید د معادنو، صنعت، تجارت، زکات او عشر له لارې خپله بودجه برابره کړي، د اسلام اقتصادي نظام هیڅکله پر مالیاتو نه دی ولاړ. نو اسلامي امارت ته هم لازمه ده، چې د خپل اقتصادي پرمختګ او بهبود لپاره داسې پلان جوړ کړي، چې بالآخره له ولس څخه د مالیاتو راغونډولو پروسه ختمه شي، نظام باید له پورتنیو لارو استفاده وکړي او د ولس له مالیاتو پرته پیاوړی اقتصاد ولري. الحمدلله؛ زموږ هېواد باندې الله تعالی بې شمېره قیمتي معادن لورولي، کولای شو له خپلو معادنو استفاده وکړو، د حکومت بودجه پرې برابره کړو او خپل رعیت ته خدمات وړاندې کړو، د همدې ملت شتمني ده، باید د همدوی خدمت کې کار ترې واخلو. دغه راز؛ حکومت کولای شي، د قوشتېپې په شان نورې مختلفې بسنتیزې پروژې پیل کړي، چې هم د نظام د اقتصادي بهبود وسیله شي او هم مو هېوادوالو ته کار، روزګار برابر شي. دغه راز؛ د صنعت، تجارت او ترانزیټ له لارې هم حکومت ډېر څه تر لاسه کولای شي. لنډه دا چې نظام باید داسې پلان جوړ کړي، چې له نورو بدیلو لارو خپله بودجه برابره کړي او له خپل رعیت څخه مالیاتو راغونډولو ته محتاج ونه اوسي. ځکه د تل لپاره له رعیت څخه مالیات راغونډول نه د مسلمانۍ خبره ده او نه چندان د غیرت کار دی. بلکې نظام هغه وخت کامل ولسي مشروعیت او ملاتړ پیدا کوي، چې له خپل رعیت څخه مالیات وانخلي او بلا عوضه په هره برخه کې خدمات ورته وړاندې کړي. خو که حکومت له خپل رعیت څخه په مختلفو نومونو مالیات اخیستل، خصوصاً داسې حالت کې چې د رعیت اقتصادي کچه هم کمزورې وي، نو ډېر ژر د حکومت او رعیت تر منځ واټن رامنځ ته کېږي. امویانو او عباسیانو چې کله د نورو مظالمو تر څنګ په وروستیو کې له خپل رعیت څخه مالیات اخیستل پیل کړل، نو په ګوټ، ګوټ کې یې مخالفتونه پیل شول او د حکومت او رعیت تر منځ واټن په زیاتېدو شو، تر دې چې دغه پیاوړې خلافتونه سقوط ته ورسیدل. همدا راز؛ په اندلس کې هم حاکمانو پر خپل رعیت د هغوی له وسه پورته مالیات وضع کړل، رعیت یې د یادو مالیاتو له ورکولو عاجز ؤ، تر دې چې ورځ تر بلې د حاکم او رعیت تر منځ فاصله زیاتېده، خو یادو غلامو حاکمانو هماغسې مالیات ترې ټولول او خپلو صلیبي بادارانو ته به یې ورکول، خو صلیبي باداران یې هم ترې راضي نه شول او خپل رعیت یې هم له هستي او نیستي خلاص کړ، تر دې چې صلیبیانو یرغل پرې وکړ او بالاخره په ۱۴۹۲ م کال وروستي مسلمان واکمن ابو عبدالله الصغیر په ډېر ذلالت د الحمراء مانۍ کیلي ګانې صلیبیانو ته وسپارلې او په اندلس کې د مسلمانانو څو سوه کلن حکومت د تل لپاره سقوط شو. نو موږ باید بیرته د راشده خلفاؤ او سلفو صالحینو لاره غوره کړو، داسې تګلاره باید جوړه کړو، چې له نورو بدیلو لارو خپله بودجه برابره کړو، له رعیت څخه مالیات وانخلو او بلا عوضه خدمات ورته وړاندې کړو.

ومن الله التوفیق

# د اشغال ماهیت او مخینه

**ابوالیاس جهادوال**

اشغال په معتبرو نړیوالو کتابونو کې د «یو هېواد لهخوا پر بل هغه نظامي ولکې» یا د «فضاء او وخت تصرف» او یا «د یو هېواد تر واک لاندې راستولو» په معناوو سره تعریف شوی او په اصطلاح کې په دښمن هېواد کې په لنډه او اوږدمهاله توګه د نظامي ځواکونو مېشتولو څخه عبارت دی چې د اشغال شوي هېواد د امنیت ټینګښت او د چارو اداره هم تر ډېره له اشغالګرو ځواکونو سره وي. یا په بل عبارت په مستقیمه توګه د یوې خاورې نیولو او یا د یوې سیمې د اقتصادي کنټرول تر لاسه کولو لهپاره د دولت پالیسي او کړنو ته اشغال وایي. اشغال هغه مهال پېښېږي چې یو هېواد د بل هغه پر حریم برید وکړي او تر خپلې ولکې لاندې یې راولي.که څه هم د بین‌المللي قوانینو مطابق، اشغالګر دولتونه نهشي کولی مستعمره هېواد له خپلې خاورې سره ضمیمه او یا یوبل خپلواک هېواد ورڅخه جوړ کړي، خو سره له دې هم په نړیواله کچه دغه ډول اقدامات لیدل کېږي، اشغالګر دولتونه په بېلابېلو پلمو د نورو هېوادونو او سیمو لاندې کولو بهیر ته دوام ورکوي او پر مستعمره هېوادونو کې خپلو لاسپوڅو ته د واک سپارلو او یو ډول نظامي مدیریت له لارې د یادو هېوادونو پر مادي او معنوي سرچینو خېټه اچوي. که څه هم د ۱۹۰۷ کال د لاهه او د ۱۹۴۹ کال د ژنیوا کنوانسیونونو د مقرراتو پر بنسټ اشغالګر د عمومي نظم، خصوصي مالکیت او فردي آزادۍ ساتلو باندې مکلف دي او نهشوي کولی چې ملکیان په جبري توګه اخراج او یا یې د جګړهییزو موخو لهپاره وکاروي خو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د سترو قدرتونو په تېره بیا امریکا او پخواني شوروي اتحاد او د هغوی د متحدانو لهخوا د دغو مقرراتو ماهیت له منځته تللی او یا ورڅخه په پراخه کچه سرغړونه شوې ده. د اشغال مخینې ته په پام سره ویلی شو چې دغه پدیده بېلابېل پټ او ښکاره اړخونه لري چې تر اشغال لاندې ټولنو د ژوندانه ټول ابعاد اغېزمنوي. دغه موارد ډېری د بشرپالنې، سولې، آزادۍ، آبادۍ او رغاونې په نوم شعارونو سره ملتونه په لومو کې راګیروي. پوهان عموماً اشغال په دوو برخو وېشي چې له زاړه (کلاسیک او مستقیم) او نوي (معاصر او غیرمستقیم) څخه عبارت دی. لومړی؛ کلاسیک اشغال:د اشغال پخوانۍ بڼه داسې وه چې سترو قدرتونو به په زور سره نور هېوادونه لاندې کول او د حاکمیت په ترلاسه کولو سره به یې د هغوی شتمني او سرچینې لوټلې. د بېلګې په ډول کله چې بریټانیا د ۱۶ پېړۍ په وروستیو او د ۱۷ پېړۍ په لومړیو کې پر هند برید وکړ هغه مهال هند له اقتصادي اړخه یو ځواکمن هېواد وو خو تر ۱۹۴۸ کال پورې چې کله دغه هېواد خپلواکي ترلاسه کوله، پر یو بېوزله او ویجاړ او برعکس بریټانیا په یو بډای هېواد بدل شو. ځکه چې ټوله شتمني یې انګریزانو ورڅخه خپل هېواد ته وېوړه. د کلاسیک اشغال مخینه ۱۴۹۳ میلادي کال ته ورګرځي، چې د پاپ په یوې مشهورې بیانیې سره چې د «مستقیم فرمان» په نوم یې شهرت وموند، پیل شو. د دغه اشغال په ترڅ کې د شمالي او سویلي امریکا عمده برخې، هسپانیا، هند، جاپان، چین او افریقایي هېوادونه د پرتګال تر کنټرول لاندې راغلل او د دغو هېوادونو ټولې شتمنۍ د اشغالګرو لهخوا لوټ او تالان شوې. له هغه وروسته د انګلستان په شمول یو شمېر نورو ځواکمنو هېوادونو هم د خپلو تر واک لاندې سیمو پراختیا په لړ کې ځینې هېوادونه تر حاکمیت لاندې راوستل چې دغه بهیر تر ۱۹۴۵ کال یعنې تر دویمې نړیوالې جګړې پورې دوام درلود. دا چې په زاړه (کلاسیک) اشغال کې نظامي ځواک لومړۍ خبره کوله، د مستقیمو جګړو او وژنو له لارې یې تحقق مونده، هېوادونه به نیول کیدل او پر مستقیم ډول به د اشغالګرو تر حاکمیت لاندې راتلل، نو د زیات لګښت، مقاومت، دوضعیت بدلون او سنتي امپراتوریو پاشلتیا له امله له ناکامۍ سره مخ شو. دویم؛ معاصر اشغال: که څه هم لومړۍ نړیوالې جګړې د اروپا ځواکمنیدو ته لاره هواره کړه او د نړۍ د واک پر مرکزیت بدله شوه خو دویمه نړیواله جګړه بیا د نړۍ د دوو سترو نظامي قدرتونو یعنې پخواني شوروي اتحاد او متحده ایالتونو ترمنځ ووېشله. دغه بدلونونه له خپلو مستعمراتو سره د اشغالګرو هېوادونو د اړیکو بدلون لامل شول.د آزادۍ غوښتنې حس زیاتوالي او د مقاومت او خپلواکۍ خوځښتونو رامنځته کیدو اشغالګر هېوادونه دې‌ته اړ کړل څو د مستعمراتو پر وړاندې خپلو سیاستونه بدل او استعماري سیاستونه د خپلو لاسپوڅو او ګمارل شویو کسانو له لارې چې د هغوی پر مټ واک ته رسیدلې، تعقیب کړي. هغوی ظاهراً د خپلو مستعمراتو له آزادۍ سره هوکړه کوله او حتی له هغوی سره یې مالي مرستې کولې، خو دغه اقدامات یوازې تظاهر وو او له دې لارې یې په غیرمستقیم ډول د هېوادونو نفتي او کاني زیرمې او پانګې لوټولې. په دې توګه اشغال په نوې بڼه راڅرګند شو چې په ترڅ کې یې د اجیرو واکمنانو له لارې د اشغالګرو اهداف او غوښتنې عملي کېږي او تر ډېره د مستقیمې سیاسي واکمنۍ په پرتله د پانګې پر ترلاسه کولو تمرکز لري. په دې ترڅ کې په آسیایي او افریقایي هېوادونو کې د آزادۍ غوښتنې او بیدارۍ په نوم داسې خوځښتونه رامنځته شول چې ډېری یې د اشغالګرو په لاس جوړ شوي وو، هغوی د خلکو غولولو لهپاره د اشغال او استعمار ضد شعارونه ورکول، لکه په ترکیه کې د کمال اتاترک پلویان یا د کمالیستانو خوځښت. دغو خوځښتونو ټول کلاسیک او سنتي جوړښتونه سره وپاشل او داسې کسان یې د واک په ګدۍ کینول چې په لویدیز پورې تړلي وو او په غیرمستقیم ډول یې د هغوی موخې تعقیبولې. فرانسوي ټولنپوه آدګار موران د نوي استعمار د ظهور په اړه وایي چې په کلاسیک اشغال کې زبرځواکونو د یوبل پر حریم تیری کاوه دا چې دغه چاره له بېلابېلو اړخونو زیانمنوونکې وه او له بل لوري اشغالګر د خپلو ګټو د دایمي کیدو په لټه کې وو، نو د نوې یا غیرمستقیم اشغال طریقه یې غوره کړه.



# اسلامي نظام ټولو ته مسوول وي

**لیکوال: خالد افغان**

اسلامي نظام د دولتدارۍ او حکومتولۍ هغه سیستم دی چې بنسټ یې د اسلام د مبین دین په څلورو ارکانو(قران کریم، سنت نبوي، د امت اجماع او پر قیاس) بنا شوی وي. د اسلامي نظام ټول فرمانونه او حمکونه د اسلام له تقاضاوو سره سم پر مخ ځي او له دې محزنه یو وېښته هم تېری نه کوي. په دې نظام کې نافذه قانونونه په هېڅ ډول له شرعي آرونو او اصولو سره په بډ/مقابل کې نه واقع کېږي. اسلامي نظام د بشري ژوندانه ټول اړخونه په خپل ځان کې رانغاړي او بشر یو اېنچ هم له خپله آره تېری نه شي کولی. الله (ج) په قران پاک کې صریحا ویلي چې انساني فیصلې دې یوازې له اسمانه په راغلي شریعت فیصله شي، که څوک یې نه کوي؛ کافران دي. د بشر په سرشت کې دا نغښتي چې دی خدای نمانځوونکې وزېږي. مانا ټول انسانان د خپل ژوند په لړ کې یوه لوړ قدرت او د لایتناهي ځواک مرستې ته اړتیا لري. انسان چې کله کله له سختو او یا هم د ژوند او مرګ له پاړ او پړانګ سره مخ شي؛ نو حتمي خپل واحد ذات ته رجوع کوي. د اسلامي نظام بنسټونه د رسول اکرم صل الله علیه وسلم له هجرته وروسته د ده مبارک په لاسونو د مدینې د منشور په مټ کېښودل شو. دا نظام په کمه موده کې د ډېرو وګړو له خوا ومنل شو چې نږدې اووه پېړۍ یې په دې خاورینه کره کې خپلې واکې وځغلولې. دا د بشر په تاریخ کې لومړنۍ ټولواکي ده چې د سلطې سیمه یې له هسپانیې نیولې تر چینه او له هاغه ځایه تر فرغانې پورې رسېده. دا دوره د مسلمانو د برم دوره وه چې ګڼ علوم پکې وپنځېدل او د انساني تمدن د یوې بهترینې بېلګې په نظر ورته کتل کېدای شي. دا هغه مهال و چې اوسنی پر خپل ټکنالوژیک او ماډرنیته ژوند غره غرب یې اغېزمن کړی و او په پوهنو کې یې له مسلمانانو پیروي کوله. اسلامي نظام ګڼې ځانګړنې او شاخصونه لري چې د همغو په بنسټ یې د یوه اسلامي نظام واکې مظبوطې کړي. خو یوه مسله چې له وړاندې باید روښانه شي هغه د یوه هیواد او نظام د چلونې د صلاحیت مبحث دی چې په دې برخه کې په زغرده ویلی شو چې له اسلامي نظام ورها خوا د ټولو سماوي ادیانو او نظامونو رهبري له انبیاوو او د الله تعالی د محبوبو کسانو په لاس کې وه. پیغمبر ص په یوه حدیث شریف کې فرمایي چې د اسراییلو د سیاست واکې د هغوی له انبیاوو سره وې. له نږدې شل کلن پردیپاله دولتدارۍ او ډیموکراټیک مهاله یو ځل بیا په هیواد کې اسلامي نظام رامنځته او د هیوادوالو له پراخ هرکلي سره مخ شو. داسې نظام چې ځان د هیواد د هر فرد پر وړاندې بامسووله بولي او هر چا ته یې د ارزیابۍ او بیان کېلي په لاس ورکړې. دلته راته د ختیځ د نابغه او لوړ شاعر علامه محمد اقبال هغه خبره را په زړه شوه چې که د ځمکې د خطې په هر ځای کې د اسلامي نظام توغ ټیټ شوی او یا هم پژمرده شوی، نو د ځمکې پر یوې بلې سیمه کې د همسیال اسلامي نظام تېغ وهل شوی. د ښاغلي اقبال له انده چې د اسلام د مبین دین له ظهوره تر ننه په دې خاورینه نړۍ کې په یوه نه یو ډول د اسلام نظام شمع بلیږي او د مره کېدو کېدو ارمان یې ګڼ کفار ګور ته وړي. د اسلامي نظام یوه اهمه ځانګړنه او لوی شاخص پیاوړي ایمان او معنوي ځلا ده. د صحابه کرامو پیاوړی ایمان او معنوي متانت ددې سبب شو چې دا وړوکي لښکر په لنډ تنګ وخت کې ګڼې سوبې خپلې کړي او د خپلو فتوحاتو لمن د اور غونډې غړانده وساتي. صحابه پرته له کوم مادي امتیاز او دریغ خپلونې د خپل سر و مال سربښندنې ته چمتو شول او د خدای (ج ) او د هغه د بنده او رسول (ص) له خوښۍ پرته یې هېڅ متاع نه درلوده. دوی په ریښتیني مانا د اخرت ګټیالي و او د قهار رب له قهره لکه پاڼه رېږدېدل. همدا سبب و چې له حدیبیې سولې وروسته الله (ج) د خپل خوږ پیغمبر ټولی وستایه او د دوی د سوبیتا راز یې خپلمنځي یووښت، حب او له کفارو سره یې کرکه یاده کړه. هو. د افغانستان ننني نظام په خورا خوارۍ د زلمیو په هډوکو او وینو ګټل شوی. ددې نظام په راټګ او د کفارو په ماتې د زرګونو مېندو د زړه ټوټې د هدیرو ځای شوې او د زرګونو پلرو د زړه او د ملا ستنې ماتې شوې؛ خو دوی د ریښتیني اسلامي نظام د پیاده کوونې لپاره دا سربښندنه د خدای په لار کې قرباني وبلله. د اسلامي نظام سپاه سالار ځواک پرته له کوم مادي امتیاز او ګټنې د اور جګړې ته ودانګل او هر ډول متاع یې د خپل ایډیال نظام تر قایمېدو جار کړه. د اسلامي نظام بله غټه ځانګړنه د عدالت او قسط ده. د قسط او عدل کلمه بیخي ډېره په قران پاک او نبوي احادیثو کې ذکر شوې. حتی الله تعالی خو په الحدید سورت کې دې خاورینې کړې ته د پیغمبرانو د راتګ دلیل هم د عدل پیاده کول بللي دي. الله ج صریحا ویلي چې ټول انسانان یې له آدم (ع) او حوا پیدا کړي او په انسانانو کې هغه غوره دی چې په تقوا کې تر نورو مخکښ وي. اسلامي امارت د یوه مسوول دولت او نظام په توګه د ریښتیني عدالت د پیاده کولو په موخه ګڼ پلانونه تر لاس لاندې لري او ګڼ نور یې لا له وړاندې پلې کړي. د عامې روغتیا وزارت څو میاشتې وړاندې په یوه خبر کې ویلي و چې په تېرو سلو کلونو او د لسګونو دولتونو له تېرېدو وروسته دا لومړی ځل دی چې د واخان ولسوالۍ په پامیر کې لومړی معیاري روغتون جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي. د عامې روغتیا وزارت مسوولانو د یاد روغتون په پرانیسته کې ویلي چې په دې روغتون کې به د جراحۍ څانګه هم پرانیزي او همداشان به متخصص ډاکټران پکې ګوماري. دوی ویل چې روغتیا وزارت ژمن دی چې نه یوازې واخان، بلکې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې ټولو وګړو ته روغتیایي چوپړتیاوې چمتو کړي. مینه او ایثار: په اسلامي نظام هر ډول توکمپالنه او د توکمیزو ګټو پالنه مردوده او فاسده ده. په اسلامي نظام کې پر وروړګلوۍ او د یو بل پر منښې خورا ټینګار کېږي. رسول الله ص د اسلام په اوایلو کې د عربو قبیلو د بېلابېلو کسانو ترمنځ د وروري تړونونه وکړل، چې له دې لارې یې وکولی شول ټولنیز یووالي ته لاره پرانیزي. نبي کریم(ص) په همدې اړه په یوه حدیث شریف کې فرمایي: ای خلکو په حقیقت سره ستاسو رب یو دی او ستاسو پلار یو دی، ټول د آدم علیه‌السلام اولاده یاست او آدم علیه‌السلام له خاورې څخه پیدا شوی دی، د الله (ج) په نزد ستاسو تر ټولو نېږدې کسان مو متقیان دي. هیڅ عرب پر عجم فضلت نه لري مګر په تقوا سره). د اسلامي امارت پر بیا واکمنېدو سره په هیواد کې د قدرت جزیرې پوپناه شوې او د افغان ورونو قومونو ترمنځ پیدا شوې کرکه او تعصب پالنه لیرې شوه. اسلامي امارت پرته له کوم قومي تعصبه د افغانستان ټول قومونه وروڼه وبلل او هر افغان ته یې د ښه راغلاست غېږه پرانیسته. په تېره دیموکراتیکه دوره کې د افغان قومونو تر منځ د نفرت او توکمپالنې دېوالونه دنګ شوي وو چې هر قومي مشر او سیاسي رهبر د ورونو قومونو په بې اتفاقۍ کې خپله بقا لیده او نږدې و چې واحد افغانستان په څو ټوټو ووېشل شي. د اسلامي امارت سرښندنکو سپاهیانو پرته له کوم امتیازه د اهل تشیع ورونو د محرم مراسمو کلک امنیت خوندي کړ او په سراسر افغانستان کې پرته له کومې وړې او لویې امنیتي پېښې د محرم شریف مراسم پای ته ورسېدل. دا لومړی ځل و چې په هیواد کې هزاره ورونه په پوره خوښۍ خپل مذهبي مراسم نمانځي. د محرم د سرېنو مراسمو په باب ارګ وویل چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د محرم لس ورځني مراسم په پوره خوښي او پرته له کومې امنیتي پېښې پای ته رسېدلي. اسلامي امارت ویلي چې د خپلو اتباعو فردي او اجتماعي حقوقو ته ژمن دی او هېچا ته هم پر بل افغان ورور د تېري اجازه نه ورکوي. د اسلام نظامي بله ځانګړنه اقتصادي ځانبسیاینه ده. اقتصادي نظام موخه د داسې یوې ټولنې رامنځته کول دي چې ټول افراد یې لږه تر لږه د دومره مادي وس څښتنان وي چې خپلې لومړنۍ اړتیاوې پکې تامینولی شي. که څه هم د رسول (ص)، خیرالقرون او د تابعینو په زمانه کې لومړنۍ اړتیاوې ساده او د ژوند چارې دومره مفشنې نه وې؛ خو د وخت په تېرېدو د انساني ژوندانه اړتیاوې بې خرته زیاتې شوې. رعیت پر حاکم اسلامي نظام حق لري چې د کار روزګار زمینه ورته چمتو کړي او رعیت یې دومره ګټه وټه ترلاسه کړي چې د خپل ژوندانه لومړنۍ ضرورتونه یې پوره کولی شي. لله الحمد د اسلامي امارت رهبري په پوره ژمنتیا سره د ځانبسیانې پر لور چټک ګامونه پورته کړي او هوډمن دي چې شته بشري قوه پر کار واچوي او د هیواد په ښېرازۍ کې ترې کار واخلي.



# نشانه های از شکست مفتضحانه اسرائیل در غزه

**احمد ضیا سروری**

آنچه در جنگ غزه متمایز از همه چیز است، تلفات سنگین انسانی و خسارت نظامی و اقتصادی وحشتناک رژیم اشغالگر اسرائیل است. کارشناسان مسائل منطقه باور بر این اند، که رژیم اشغالگر سه چیز را نمی تواند تحمل کند. تلفات نیروها، خسارت اقتصادی و طولانی شدن جنگ؛ مسائلی که در جنگ غزه هر سه مورد آن تا حال اتفاق افتاده است. در جنگ غزه رژیم اشغالگر با هیچ دولتی طرف نیست، بلکه تنها دو گروه مقاومت فلسطین است که با تجهیزات اندکي که دست ساخت خود آنها میباشد، در حال نبرد اند. با همین تجهیزات خیلی ابتدای نیروهای مقاومت فلسطین به دست آورد های بزرگی نائل گردیده اند، دست آورد هایی که در صورت تداوم این جنگ ماشین جنگی رژیم اشغالگر فلج و حتا هستی این کشور ساختگی را تا سرحد نابودی خواهند کشاند.

آنچه که سران رژیم اشغالگر و حامیان متحجر غربی اش را حیرت زده کرده است، ایستادگی شدید مجاهدین مقاومت فلسطین است که با وجود ریختن هزاران تن بمب های مختلف النوع و اعزام هزاران نیروی پیاده تا دندان مسلح، کوچک ترین خلل در صف مقاومت و ظرفیت نظامی آنها ایجاد نشده است. اما بر خلاف محاسبات و شعار های کاذب حکام رژیم اشغالگر و حامیان غربی اش مبنی بر دوام جنگ الی سرکوب آخرین نیروی مقاومت، تا حال چرخ این جنگ نابرابر به سود مقاومت فلسطین چرخیده و الی شصت و هشتمین روز این جنگ مقاومت توانسته است، بیشتر از ۹۰۰ تانک مرکاوای ۴، نفر بر، وسایط زرهی، بولدوزر و بیل تخنیکي رژیم اشغالگر را به طور کلی یا جزئی منهدم نماید.

از سوی دیگر طوفان الاقصی آنقدر برای نظامیان اشغالگر سنگین بود، که روزنامه عبری زبان (یدیعوت آحارونوت) اعتراف کرد، که حماس در حمله هفتم اکتوبر نه تنها سازمان های اکتشافی و امنیتی اسرائیل را غافلگیر کرد، بلکه در زمینه دفاعی نیز حیثیت و جایگاهی نظامی اسرائیل را که در منطقه از حمایت های هنگفت مالی، نظامی و تسلیحات پیشرفته کشور های غربی بر خوردار است، به خاک یکسان نماید.

این روزنامه می افزاید، حماس توانست روش‌های دفاعی مختلف و متنوعی را در نبرد با رژیم اسرائیل به کار گیرد.

از آغاز نبرد طوفان الاقصی، شمار نظامیان کشته شده اشغالگر، بنابر نشر منابع اسرائیلی حدود ۱۵۰۰ نفر تخمین زده شده که حدود ۴۰۰ نفر آن نظامیان بوده است. از سوی دیگر منابع مقاومت، شمار نظامیان کشته شده در جنگ غزه را بیشتر از این آمار می داند، که یکي از اسناد صحت این ادعا، دفن اجساد ۵۰ نظامی این رژیم طی یک روز در یک قبرستان مربوط به یهودی ها در اورشلیم اشغالی می‌باشد.

چیزیکه کار شناسان جنگی حوزه خاورمیانه با استناد از منابع معتبر و رسانه های داخلی اسرائیلی از تلفات رژیم اشغالگر می گویند هولناک تر از آن است که دستگاه های تبلیغاتی رژیم اشغالگر می گویند. آنها معتقد اند که ۱۹ در صد از کل نیروهای که در حمله زمینی غزه اشتراک داشته، تا حال به جهنم سوق داده شده اند.

در نتیجه ناکامی مفتضحانه، در جهت دستیابی به هیچ یکي از اهداف این جنگ نابرابر، طی اقدامی تازه، رادیو ارتش رژیم اشغالگر اعلام کرد که ۷ تیپ زرهی از غزه شامل تیپ ۵۵۱ و تیپ ۱۴ ذخیره و سه تیپ آموزشی از شمال غزه (بیت الحنون)، جایکه از آغاز تهاجم اسرائیل بیشترین ضربات کوبنده را متقبل گردیده، بیرون شده اند. در تازه ترین مورد دیگر به روز سه شنبه ۲ جنوری گردان های ۸۷۱۷ نیروی دفاعی نیز غزه را ترک کرده است. روزنامه نیویارک تایمز نوشته است که این خروج به هدف کاهش مصارف جنگی صورت گرفته است.

اصل ماجرا از این قرار است که اسرائیل در حال نوشیدن جام شکست نظامی و اقتصادی غیر قابل جبران خود است. بدون شک گستاخی و اظهارات متکبرانه نتانیاهو از واقعیت های عینی جنگ غزه سنگ فرسخها فاصله داشته و این بلند پروازی وی منجر به بی ثباتی سیاسی که در تاریخ این کشور مصنوعی پیشینه ندارد، گردیده است.

از جانب دیگر، روزنامه الشرق الاوسط ۳ شنبه ۲ جنوری اعلان کرد که اسراییل و آمریکا بر خروج تدریجی از غزه به توافق رسیده است. این تنها یک روز پس از آن صورت می گیرد که کشتی طیاره بر آمریکای (جرالد فورد)، که در آب های مدیترانه بعد از حمله غافلگیرانه هفتم اکتوبر توفان الاقصی به هدف حفظ اسرائیل مستقر گردیده بود، در روز های آینده منطقه را ترک خواهند کرد. سینتکام آمریکا دلیل این عقب گرد را تلاشی برای جلوگیری از گسترش جنگ و حفظ آرامش در خاورمیانه گفته است.

اما این چرخش و رویکرد عجولانه را از دید قواعد پذیرفته شده ای جنگی به بررسی بگیریم، به جز از یک شکست مفتضحانه برای رژیم اشغالگر و حامیان متحجر غربی اش، هیچ چیزی دیگر بوده نمی تواند.



# د حجاب اړوند د شبهاتو ځوابونه:

## (يوولسمه شبهه)

مولوي نورالحق مظهري

د حجاب مخالفين وايي: بې حجابي او مخ لڅونه د ښځي حق دی او حجاب پر دې باندي ظلم دی؛ د اسلامي حجاب د مخالفينو په ګمان بې حجابي د ښځي حق دی هغه حق چي اوس ټولني ورڅخه اخيستی دی همدا راز خود خواه، قديمي اوکوټه فکره سړيو ځيني سلب کړی دی؛ د دوی په باور حجاب پر ښځي باندي ظلم دی او د دې د حق سلبول دي.

جواب: د دغه خلکو په جواب کي بايد وويل سي: لومړی خبره دا ده چي حجاب داسي حکم نه دی چي هغه دې د ټولني او يا سړي لخوا اېښوول سوی وي چي په عملي کولو يې پر ښځه باندي ظلم راسي او ښځه دې د هغه څخه د خلاصون لپاره هڅه اوکوښښ وکړي لکه په اروپا او غربي هيوادونوکي چي د ښځي او خاوند تر مينځ داسي قضيې او پېښې مينځ ته راځي؛ بلکي حجاب هغه حکم او قانون دی چي د ښځي رب او خالق ورباندې فرض کړی دی هيڅ مسلمانه ښځه د دې واك نه لري چي د حجاب پر فرضيت او مهموالي دي د الله پاك سره مقابله وکړي او نه هم د حجاب په منلوکي دې لره اختيار سته بلکې دا يې په منلو باندي مکلفه ده.

په سورة الأحزاب ٣٦ آيت کي الله جل جلاله فرمايي:

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً مُّبِينًا. [الأحزاب:٣٦]

يعنې د مسلمان او مسلماني لپاره د دې حق نسته چي کله يې الله او يا د الله رسول په هکله فيصله وکړي نو دوی دي په منلوکي اختيار ولري او هر څوك چي د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي نو هغه په ښکاره ګمراهۍ باندې بې لارې سوی دی.

نو د حجاب په شمول په هيڅ اسلامي حکم کي مسلمانانو ته دا نه روا کيږي چي دوی يې په کولو کي اختيار ولري بلکې هر کار چي الله پاك يې انسان په کولو باندې مکلفه کړی وي بايد سر ته يې ورسوي.

بله خبره دا ده چي دوی حجاب ته ظلم وايي، حجاب پر ښځي باندې زورواکي او تيری بولي دا خپله د دې خبرې ښکارندويي کوي چي دوی د اسلام په هکله پوره معلومات نه لري او نه هم اسلامي ارزښتونه ورته پوره معلوم دي کنه نو د حجاب له امله هيڅ نه ستونزه مينځته نه راځي؛ ځکه حجاب کومه نوې خبره نده بلکې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې حجاب فرض کړل سوی دی، په هماغه زمانه کې په پوره توګه نافذ او عملي سوی دی او د هغه وخت څخه را پدې خوا هغه دی تر ١٤ پيړيو ډېر وخت په مسلمانانو کي پاته سوی دی او هيڅ مسلمان دا خبره نه کوي چې په زمانه کي د رسول الله صلی الله عليه وسلم او يا هم په هغو زمانو کې چي د حجاب پر کولو باندې پوره پابندي وه ښځه دې د حجاب له وجهې مظلومه واقع سوې وي او يا دې هم په ټولنه کي حجاب ته د ظلم او تيري په سترګه کتل سوې وي؛ بلکې د حجاب په شمول د اسلامي شعائرو سپکاوی او په مسلمانانو کي يې کم رنګه کېدل د هغه وخته څخه راپيل سويدي چي په مسلمانانو کي بې دينۍ لاره موندلې او يا هم د ځينو عياشو او جاهلو خلکو په واسطه د اسلام په نامه کوم ناوړه کارونه سوي دي؛ او په رښتيا چي کوم ظلمونه اوس د ځينو مسلمانانو لخوا پر ښځو باندې کيږي پدې کې د اسلام نقصان نه دی بلکې د هغه خلکو نقصان دی چي ظلم کوي ځکه دوی د خپلې سپېڅلې عقيدې څخه فاصله نيولې، اسلامي او ديني تعليماتو ته يې شاه ګرځولې، د دې پر ځای چې د خپل ژوند د سمون معيار اسلامي شريعت وګرځوي د نورو بيګانه خلکو په فرهنګ او کلتور پسې روان دي، زده کړې کوي خو ادب او تربيې ته پاملرنه نه کوي، هر يو د دې کوښښ کوي چي داسې زده کړې وکړي چي په مټ يې سرمايه او دنيا لاس ته راوړي او د اسلامي خواخوږۍ په هدف او ټولنې ته د مثبت خدمت په موخه زده کوونکي د ګوتو په شمېر دي.

معلومه خبره ده چي هره ټولنه دومره د خپل دين څخه واټن ونيسي نو د بې حجابۍ په شمول نور ډېر داسي کارونه به وکړي چي هغه په شريعت کې حرام او ناروا وي او په دنيا او آخرت کي د دوی لپاره رسوايي او شرمنده ګي وي.

د مسلمانانو لپاره د سم ژوند او پاکې زمانې نمونه د رسول الله صلی الله عليه وسلم وخت دی چې د ښځې حجاب هم وو، مسلمانانو ته د هراړخيز اخلاقي او روحي پاك ژوند زمينه هم برابره وه او مسلمانان په خپل وخت کې پرمختللي، متمدنه او مترقي ټولنه پېژندل کېدل.

او ډېره جالبه خبره دا ده چي حجاب ته هغه خلګ د ظلم په سترګه ګوري کوم چې حجاب نه کوي؛ په کومي ټولني کي چي حجاب کيږي هلته حجاب ته د ظلم په سترګه نه کتل کيږي او نه هم ښځي حجاب کول پر ځان باندي ظلم بولي بلکې مسلماني ښځې په خپله خوښه او په ډېري لېوالتيا سره حجاب کوي.

که موږ په نړۍ کي په هغو خلګو کې چي حجاب سم پېژني يوه سروې وکړو زه باوري يم چي قاطع اکثريت به د حجاب په پلوۍ رأيه ورکوي ځکه حجاب د ښځي لپاره شرف دی، حجاب د ښځې لپاره عزت دی، حجاب د ښځي لپاره ارزښت دی، حجاب د ښځې لپاره سکون دی او حجاب د ښځي لپاره محافظ دی.

ما چې څومره فکر کړی دی د حجاب سره هغه خلګ يا هغه ښځې مخالفت کوي چي په هغوی کي بالکل حجاب نسته او يا د حجاب په پوره ارزښت خبر ندي؛ ددې ساده مثال داسې دی لکه د افغانانو پراخ کالي او په نورو هيوادونو کي د خلګو تنګ پتلون؛ ممکن ډېری خلګ د افغانانو په لباس پورې وخاندي او دا يوډول سادګي وبولي خو که په خوند او ارزښت يې پوه سي هيڅ کله به بيا نه تنها داچي سپکاوی به يې ونکړي بلکي خپله به يې هم په تن کړي.

ددې خبرې ژوندی شاهد ما په خپلو سترګو ليدلی دی موږ په ١٣٨٠هـ ش کال کې د طالبۍ په دوره کي په ايران کي د تهران په پرديس ولسوالۍ کي د يوه ايراني سره کار کوی؛ د هغه به زموږ کالي ډېر خوښېدل، زموږ د کالو به يې ډېر صفت کوی او ويل به يې که دلته زموږ په ځای کي رواج وای اورومرو به موږ هم آغوستلای ځکه ستاسې په کالو کې سړی ډېر هوسا وي او ټول حرکات په ښه آسانۍ سره تر سره کولای سي.

# ماضي په حال کې د قرآن کريم درسونه؛ د امارت مسؤليت دی!

ليکنه: محمدعلي عظمت

حضرت عثمان رضي الله عنه د عفان زوی دی، کنيه يې ابو عبدالله او ابوعمر، لقب يې ذی النورين دی، مور يې اروي بنت کريز نوميده، نوموړې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ترور وه او په خپله عثمان بن عفان د رسول الله صلی الله عليه وسلم زوم هم و. د هغه دوې لوڼې يې يوه په بله پسې په نکاح کړې وې. عثمان رضي الله عنه د بنو اُميه کورنۍ سره تړاو لرلو چې په قريشو کې د لوړ مقام او منزلت څښتان وو. عثمان رضی الله عنه له لومړنيو مسلمانانو څخه دی، چې اسلام يې راوړی دی.

عثمان رضي الله عنه د مکې د مشرکانو له خوا ډېر کړاوونه وګالل او حبشې ته يې هجرت وکړ، له بدره پرته په ټولو غزاګانو کې حاضر و، د حديبې د صلحې په مهال مکې مکرمې ته لاړ، په مدينه کې يې د مسلمانانو د اوبو د کمښت لرې کولو لپاره څاه واخيستله. ډېرې صدقې يې ورکړې او زيات مجاهدين يې مجهز کړل. کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم رحلت وکړ، د دواړو راشدو خليفه ګانو ملاتړی و، له هغوی سره يې مرسته کوله. چې دوهم راشد خليفه ټپي شو، شپږ کسيزه شورا يې جوړه کړه، هغې شورا عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته واک ور وسپاره، نوموړي له اهل الرأی څخه پوښتنې وکړې او په پايله کې حضرت عثمان رضي الله عنه د خليفه په دول وټاکل شو، هغه نبوي مسجد ته راغی، وينا يې وکړه او خپله تګلاره يې په کې واضح کړه. عثمان رضي الله عنه د مخکېنيو راشدو خليفه ګانو فتوحاتو ته ادامه ورکړه، ډېرې سيمې يې ونيولې او فتح کړې، د اسلام لمنه پراخه شوه، ډېر عجم په اسلام کې داخل شوو، د قرآن کريم د لوستلو په اړه د مسلمانانو ترمنځ اختلاف راغی، عثمان رضي الله عنه يو هيئت تشکېل کړ او څو مصاحف يې وکښل او چې له چا سره نور موجود وو؛ هغه يې وسوځول. ولې له بده مرغه چې دا حياناک خليفه د باغيانو له خوا کلابند او بيا په داسې مهال په شهادت ورسول شو، چې د علي کرم الله وجهه، طلحه رضي الله عنه او زبير رضي الله عنه زامن د هغه د کور په دروازه کې پيره کوله. خو باغيانو د شا لوري کور سوری او دريم خليفه يې شهيد کړ. (٣٦هـ) د يادولو وړ ده چې باغيانو مدينه کلابنده کړه، لوی اصحابان يې له ګوابښ لاندې ونيول، يعنې هغوی ته يې وويل چې خليفه را وټاکئ، بيا هماغو باغيانو علي کرم الله وجهه خليفه وټاکه، نوموړي خلافت ومانه، ځکه چې د خلافت حقدار هم و. باغيانو ډېر زيات کوښښ وکړ چې دريم خليفه عثمان رضی الله عنه خلافت پرېږدي خو خليفه ته رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې ويلي و:

«يا عثمان ان الله عزوجل عسی أن يلبسک قميصا، فأن اراد المنافقون علی خلعه فلا تخلعه..».

ژباړه: عثمانه! ښايي الله جل جلاله يو کميس درواغوندي، نو که منافقانو له تا د هغه دوېستلو اراده وکړه هغه مه باسه...! [ترمذي ٣٧٠٥]

سيدنا محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم دا خبره هغه ته درې وارې تکرار کړه. د ستر پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم له زوم (دريم خليفه) څخه باغيانو په تکرار دا غوښتنه کوله چې له خلافته لاس په سر شي، ولې هغه دا غوښتنه رد کړه او نبوي وينا يې رښتيا کړه.

دريم راشد خليفه قرآن کريم د مسلمانانو له اختلافه وساته، ويې ليکه او نور ټول يې د لويو اصحابانو په شتون کې وسوځول. که هغه په خپل وخت داسې ګام نه وی پورته کړی، نو اوس به د يهودو او نصاراو د کتابونو غوندې زموږ کتاب هم ګډوډ شوی و.

اوس واک او ځواک د اسلامي امارت په لاسو کې دی، لازم دی چې له هر ديني مرکزه د قرآن کريم اواز واورو، که هغه لوی مرکز وي بايد هلته د قرآن کريم ترجمه وشي، د کتاب الله تفسير وشي، له هر دفتره مدرسه جوړه شي، ځکه په شلن کلن اشغال کې هيڅ هم نه دي شوي، له مدرسې سره د يهودو غوندې دښمني شوې ده. په ساينس او ټکنالوژي کې ښه تکړه وي، خو له اسلامه نا خبر وي، دومره ساده او بسيطه پوښتنه به وکړي يا يې له خولې دومره عجيبه ناپرېته ووځي چې هغه د څلورم ـــ پنځم ټولګي د دنيات په کچه وي!!

له هر دفتره بايد مدسه جوړه شي، ځکه د دين په لحاظ د کارمندانو سويه بيخي صفر ده، له هر څه مخکې لمونځ ورته پکار دی، زما د دفتر ځيني ملګري ناست وي، جماعت وشي، وروسته بيا لاړ شي الله ښه پوهيږي چې لمونځ کوي که زاړه ياران ګوري!! بايد دوی ته لمونځ او د اداء کولو طريقه ور زده شي، بيا داسې په ترتيب سره مخ په وړاندې لاړ شي. د عقايدو په اړه پوره معلومات ورکړل شي، ځکه د ډېرو عقيدې ناسمې دي. له هر څه وړاندې د عقايدو زده کول لازم دي. چې عقيده يې خرابه وی له هغه کارمنده څه نه جوړيږي! هغه د اسلامي امارت په کارونو کې هم اخلاص نه کوي او له ټګي برګي کار اخلي!

د افغانستان اسلامي امارت دا دنده لري چې په ټول هېواد کې د مدرسو جال خپور کړي، علماء کرام په مدرسو کې په تدريس بوخت کړي، په ښوونځيو کې يې په معلمي وګوماري، ښه لوړ معاشات ورکړي، د ولاياتو له مرکزونو او له پلازمينې لرې يې په اطرافو کې د قرآن کريم په تدريس بوخت وساتي، يو زده کوونکې په داسې روحيه وروزي چې امامت هم کولی شي او د ادبياتو، اجتماعياتو او سايسني علومو درس هم ورکړل شي. له زده کوونکو هم ملا[ددين عالم] جوړ کړي او هم د ساينسي او عصري علومو معلم.

ټولې دندې په مراکزو او پلازمينه کې اخيستل دا تاوان لري، چې اطراف جاهل پاتې کېږي، حکيم الله جل جلاله دا امانت د دوهم ځل لپاره راباندې لورولی، د امارت چارې يې راسپارلې چې بايد د اداء کولو چارې يې هم په احسنه طريقه سره وي؛ ځکه امارت زموږ ټولو امانت دی!



# وروره مه ځه سالار اور دی!

دادمحمد ناوک

سالار؛ د تېرې اورنۍ معرکې، سرښندنې، ځان تېرېدنې او مبارزې سالار پاتې شو، داسې چې هره لوټه، هره ونه او هر دېوال يې په اورونو کې پوخ شو، د غونډيو پر سرونو د کلاوو پر دروازو يې د ابادو شويو دنګو کوټو بې شيشو کړکېو تر رنګينو بيرغونو لاندې داسې تېرېدونکي هر لاروي ته راکتل، لکه د خپل درد او ټپي وضعيت داستان چې اورول غواړي.

سړي به انګېرل چې دلته ونې غرېږي، دوی د تېرې مبارزې کېسې کوي او د سترګو ليدلی حال شريکوي: د سړک تر څنګ ټانګ والوت، اور او خاورې سره يو ځای پورته شوې، ګرد لا کېنستی نه و، چې له نورو ټانګونو پرلپسې ضربو د ونو پاڼې رېبلې، د ترل شويو دوکانونو دراوزې يې غلبېولې او نابلده کرېږو او په پردۍ ژبه ښکنځلو سيمه په سر واخيسته، په مخابرو کې له ښکنځلو وروسته د څنګ غونډۍ له پوستې توپ فير شو او د مخامخ کورونو له منځه لويه دوړه پورته شوه!

دا د سالارو د څو متره فاصلې هر ورځنی حال و، دلته پر ځوانانو له پوستو ښه زده کېده، له دوکاندرانو خوراکي توکي په وچ زور وړل کېدل او د ماشومانو د شوخۍ او کړسنده خنداګانو درک داسې ورک و، لکه دلته چې يوازې څره ګان د موقت وخت لپاره اوسي!

همدا سالار، چې د کتار تېرېدو په وخت کې د سپرلۍ سلامتې موټرې د کمپاين د موټروانانو تر موټرو لاندې شوې، چې يوازې به پکې د مرميو ضربې، د اورونو لمبې او د ګړنديو تېرېدونکو موټرو هارنونه اورېدل کېدل؛ اوس د ژوند سالار دی، داسې لکه هر د ېوال، هره ونه او غلبيل شوی هر دوکان چې مغرور ولاړ وي، د خپلې مبارزې د بريا پياوړی احساس کوي او هر ليدونکي ته ور پام کوي چې څنګه د اورونو له منځه شهيد، غازي او عزتمن را و ووت، نه يې امريکايي سپېشل فورس، نه داخليانو او نه د کمپاين په نوم ازاريانو غرور مات کړ!

اوس پکې ګام په ګام هوټلې دي، دوکانونه يې تر نيمو شپو خلاص وي، پر غونډيو ابادو شويو کلاوو کې ژوند شروع شوی او د کړکېو پر شيشو د لګېدونکو وړانګو انعکاس سړی مسکې کوي، لکه دوی چې هم خاندي!

اوس يې پر خړو مغرورو دېوالونو رنګين بيرغونه نه ښکاري، چې ترې لاندې به د وسلې تورې خولې د خلکو رېبلو ته شېبې شمارلې؛ اوس کوم د چرسو دوړو کې امريکايي کېمپو ته د کانتينرونو لېږدونکي ځوان نه وايي: درته نېولې مې ځولۍ، سر مې سرتور دی وروره مه ځه سالار اور دی، وروره مه ځه!نه هم کوم کرايه شوی افغان د بې وسۍ وروستي حد کې د امريکايي چوپړ له ستومانۍ دا غږ پورته کوي: اور ولګوې، اوباما په کمپاينو باندې ورکې يې تبا کړل، د سالارو کمېنو باندې او ورلګوې!

اوس سالار د ژوند سالار دی، داسې سالار چې د هر دېوال او هرې معززې لوټې تاريخ يې بايد خوندي شي!

# شعر له حکمته تر شعاره!

**فاروق غلجی**

لکه چې معلومه ده انسان په خپل ذات کې د عقل، شعور، فکر، احساساتو او عواطفو یوه لویه زېرمه لري چې د خپل خالق د علم، حکمت او قدرت پر اساس هر چاته په بېلابېلو کچو ورکړې شوې او بیایې هماغسې هر یوه ته په مختلفو ډولونو او جلاجلا طرزونو د بیان، څرګندولو او نوروته رسولو استعداد هم ورکړی. د بیان د همدغو طرزونو له جملې یو هم شعر دی چې د دې استعداد او هنر خاوندان یې په خپل خپل اسلوب تر نورو رسوي او پرډېرو ترڅه بریده اغېز هم ښیندلی شي. شعر د انساني تاریخ په اوږدو پړاوونو کې همېشه خپل کردار لوبولی ځکه دا هنر د انساني احساساتو او عواطفو په لمسولو، پارولو او هڅولو کې ژور تاثیر لري او ځینو شعرونو کله کله د یوې بشپړې ټولنې تاریخ او بر خلیک هم بدل کړی دی. تردې چې زموږ د سپېڅلو دیني لارښوونو له مخې هم څه شعرونه له حکمته ډک بلل شوي. البته حقیقت هم دادی چې کله شعر له ابتذاله پاک او د انسان په هدایت، اصلاح، اخلاقي مکارمو او معنوي سپیڅلتیا کې استعمال شوی او خپل افایت، جامعیت او کرامت یې ساتلی نو دا ډول شعر ابدیت هم ګټلی او خپل درنښت او قداست یې ساتلی. دمثال په ډول تاسې د رحمان بابا، سعدي، مولانا بلخي، خوشال خان او داسې نورو اشعار درواخلئ چې څرنګه په هر مجلس او هر منبر کې په تکراري ډول اورېدلی او لوستلی شي خو بیا هم نه څوک پرې ستړېږي او نه ترې مړېږي. ځکه دا ډول اشعار پر عقل، حکمت، انساني سلیم فطرت او واقعي مصالحو بناء دي. خو بل لورته هغه مبتذل اشعار چې د مادي هوسونو او تکلفي فرمایشاتو پر اساس ویل شوي، ښایي څه موقتي اوریدونکي ولري خو عمریې لنډ او د خریدارانو څه درک یې نه لګیږي. مطلب هغه مهال چې په شعر کې هدف او مقصدیت نه وي او له معنوي ابتکاراتو هم خالي وي بیانو هغه شعر نه بلکې تش یو تکراري شعار او کلیشه یي قوافي او ردیفونه دي. له بده مرغه زموږ د اوسنیو اشعارو ښه تر ډېره حده د شعر په نسبت شعارته ډېره ورته لیدل کېږي. مثلاً که همدغو درې - څلورو لسیزو کې پر خپلو اشعارو سر سري شانته نظر واچوو نو که څه هم د وخت له غوښتنو سره سم حماسي او جهادي اشعارو ته اړتیا محسوسه او خورا ژوراغېز یې هم درلود خو کله چې له اندازې ور زیات شول نو طبعاً شعاري ښه یې غوره کړه. دغه راز بل لورته بیا د اشغالګرو او هغوی د کورنیو حامیانو په تشویق او تمویل چې یو شمېر شاعرانو د بهرنیو یرغلګرو په موجودیت کې تکلفاً د دفاعي جهاد او جګړې پر خلاف شعرونه ویل او خلک یې سولې ته دعوتول، دا هم کاملاً بې اغېزې او په یقیني توګه یوازې شعارونه وو چې فقط د څو پیسو ترلاسه کول پکې هدف و. بیا تر هغو ورځو را په دې خوا له فتحې را وروسته بیا هم د بازار او مارکېټ په غرض د زیاترو شاعرانو له خوا له شعر نه د طالب ستاینې شعار جوړ او ترڅه حده د دربار چاپلوسي او غوره مالي پکې ورګډه شوه. همدا رنګه په شعر کې د تکلف او شعاریتوب یو بل مثال هغه نظمونه او شعرونه هم دي چې مختلفو دیني محافلو کې د نعتیه کلام په نامه د ځینو شاعرانو له خوا ویل کېږي او د چندو راغونډولو هدف یې له ورایه ناري وهي. دا ډول شعرونه که څه هم د مذکور په لحاظ ډېر اوچت دي خو څرنګه چې تکلف، تکرار، ریا او شعار پکې ډېر څرګند دي نو طبعاً پیکه او بې اغېزې ښکاري. دغه شان د تکلف او شعاریت په لړ کې دا مهال د زیاترو شاعرانو له خوا د کلام ظاهري صنعت، لفظ پرستي او یوازې د قافیې او ردیف د سمون هڅه هم یوه ستره نیمګړتیا ده چې موږ او تاسې یې زیاترو اوسنیو مشاعرو کې په څرګنده محسوسولی شو. بنا پردې د شعر د ښکلي هنر خاوندانوته لازمه ده چې خپل اشعار له هر ډول ابتذال او تکلفه پاک، له اوچتو اخلاقي ارزښتونو ډک او پرداسې ټولنیزو اصولو او معیارونو برابر کړي چې د نړۍ پر مخ د انسان د موجودیت تر مهاله خپل قدر او ارزښت له لاسه ورنه کړي. زموږ شاعرانوته بویه چې د یو مؤمن او ژمن داعي په حیث خپل مخاطبین له هر ډول غفلت، لهو ولعب، خرافي او منحرفو افکارو، بې سنده انګېرنو او ناروا پارونو څخه وژغوري او په دې توګه خپل اشعار هغه قالب ته واچوي کوم چې په نبوي کلام کې هم حکمت ورته ویل شوی دی. لنډه دا چې زموږ هر شاعر که خپل اشعار له دې ډول تکلفاتو وساتي او له خلکو سره د رښتیني خواخوږۍ پر بناء یې لوړو اخلاقي مکارموته وبلي، بې له شکه چې خپل اشعار به یې له موقتي شعاریته خلاص کړي او په ټولو انساني پړګنو کې به یې ابدیت ورته ګټلی وي.

# اقبال لاهوری الگوی اخلاق و اندیشه

## بیوگرافی اقبال لاهوری

**شاداب**

